# صوبائی اسمبلی خیبر پختونخوا

اسمبلی کا اجلاس، اسمبلی چیمبر پشاور میں بروز جمعۃ المبارک مورخہ 04 مئی 2012ء بمطابق 12 جمادی الثانی 1433 ہجری بعد از دوپہر چار بجکر اڑتالیس منٹ پر منعقد ہوا۔
جناب سپیکر، کرامت اللہ خان مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔

---

## تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ

اَعُوذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیطٰنِ الرَّجِیمِ۔ بِسمِ اللّٰہِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیمِ۔

قُلِ اللّٰھُمَّ مٰلِکَ الْمُلْکِ تُؤْتِی الْمُلْکَ مَن تَشَآءُ وَتَنزِعُ الْمُلْکَ مِمَّن تَشَآءُ وَتُعِزُّ مَن تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَآءُ بِیَدِکَ الْخَیْرُ إِنَّکَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیرٌ O تُولِجُ الَّیْلَ فِی النَّھَارِ وَتُولِجُ النَّھَارَ فِی الَّیْلِ وَتُخْرِجُ الْحَیَّ مِنَ الْمَیِّتِ وَتُخْرِجُ الْمَیِّتَ مِنَ الْحَیِّ وَتَرْزُقُ مَن تَشَآءُ بِغَیْرِ حِسَابٍ ۔

(ترجمہ): (اے محمد صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم) آپ (اللہ تعالیٰ سے) یوں کہئے کہ اے اللہ مالک تمام ملک کے آپ ملک جس کو چاہیں دیدیتے ہیں اور جس سے چاہے ملک لے لیتے ہیں اور جس کو آپ چاہیں غالب کر دیتے ہیں اور جس کو آپ چاہیں پست کر دیتے ہیں آپ ہی کے اختیار میں ہے سب بھلائی۔ بلاشبہ آپ ہر چیز پر پوری قدرت رکھنے والے ہیں۔ آپ رات (کے اجزا) کو دن میں داخل کر دیتے ہیں اور (بعض فصلوں میں) دن (کے اجزا) کو رات میں داخل کر دیتے ہیں۔ اور آپ جاندار چیز کو بے جان سے نکال لیتے ہیں (جیسے بیضہ سے بچہ) اور بے جان چیز کو جاندار سے نکال لیتے ہیں (جیسے پرندے سے بیضہ) اور آپ جس کو چاہتے ہیں بے شمار رزق عطا فرماتے ہیں۔ صَدَقَ اللّٰہُ الْعَظِیم۔

<u>جناب سپیکر</u>: جزاکم اللہ۔

## اراکین کی رخصت

<u>جناب سپیکر</u>: ان معزز اراکین نے رخصت کیلئے درخواستیں ارسال کی ہیں، جن میں ڈاکٹر حیدر علی خان صاحب 04-05؛ نرگس ثمین صاحبہ 04-05؛ یاسمین جسیم صاحبہ نے پورے اجلاس کیلئے؛ انور سیف اللہ خان 04-05 تا 18-05؛ سعیدہ بتول ناصر صاحبہ 04-05؛ ڈاکٹر ذاکر اللہ خان صاحب 04-05؛ حاجی قلندر خان لودھی 04-05؛ وجیہہ الزمان خان 04-05؛ راجہ فیصل زمان صاحب 04-05؛ خلیفہ عبدالقیوم 04-05 تا 09-05؛ جناب ثناء اللہ میانخیل 04-05؛ کشور کمار صاحب 04-05 اور ساجدہ تبسم صاحبہ 04-05 کیلئے تو Is it the desire of the House that the Leave may be granted?

(The motion was carried)

<u>Mr. Speaker</u>: The Leave is granted.

## مسند نشین حضرات کی نامزدگی

<u>Mr. Speaker:</u> 'Panel of Chairmen': In pursuance of sub rule (1) of rule 14 of the Provincial Assembly of Khyber Pakhtunkhwa, Procedure and Conduct of Business Rules, 1988, I hereby nominate the following Members, in order of priority, to form a 'Panel of Chairmen' for the current Session:

(i) Mr. Abdul Akbar Khan;
(ii) Mr. Ghani Dad Khan;
(iii) Mr. Shah Hussain Khan; and
(iv) Sardar Shamoonyar Khan.

## عرضداشتوں کے بارے میں کمیٹی کی تشکیل

<u>Mr. Speaker:</u> 'Committee on Petitions': In pursuance of rule 116 of the Provincial Assembly of Khyber Pakhtunkhwa, Procedure and Conduct of Business Rules, 1988, I hereby constitute a 'Committee on Petitions' comprising the following Members under the Chairmanship of Mr. Khushdil Khan Advocate, honorable Deputy Speaker:

(i) Syed Muhammad Sabir Shah;
(ii) Mr. Ghani Dad Khan;
(iii) Mr. Muhammad Zamin Khan;
(iv) Haji Qalandar Khan Lodhi;

(v) Mr. Sikandar Hayat Khan Sherpao; and
(vi) Mufti Kifayatullah.

## توجہ دلاؤ نوٹس ہا

Mr. Speaker: ‘Call Attention Notices’: Muhammad Zamin Khan, to please move his call attention notice No. 716.

جناب اکرم خان درانی (قائد حزب اختلاف): يو دوه منټه ټائم غواړمه۔

جناب سپیکر: جی؟

قائد حزب اختلاف: سپيکر صاحب! يو منټ دوه که ستاسو اجازت وی؟

جناب سپیکر: بالکل بالکل، ودريږه لږ، دا دوه درے خيزه دی، بس بيا ستاسو هاؤس دے چي څومره ستاسو خوښه وی جی۔

Zamin Khan, lapsed. Saqibullah Khan Chamkani, to please move his call attention notice No. 720.

Mr. Saqibullah Khan Chamkani: Thank you very much, Mr. Speaker. Sir, I wish to draw the attention of this august House to the problem of the teacher’s shortage in the Elementary and Secondary Education Department. Due to red tapism and ill planning, the Education Department service delivery has been worstly affected.

جناب سپيکر صاحب، زما په خيال په دي ايوان کښي چي څومره کسان هم ناست دی جی، که هغه منسټران صاحبان دی او که عام ممبران دی، دوئ ټولو ته د دي پرابلم پته ده جی۔ سر، زمونږه که آئين ګارنټی ورکوی چي دا Basic education د هر يو Citizen حق دے خو سر، داسي ښکاری چي مونږه په دي Red tapism کښي هيڅ Step د دي نه پس وانخستو جی۔ سر، زمونږه په پيښور ډسټرکټ کښي که تاسو لږ د نيشنل ايجوکيشن پاليسئ د لاندي اوګورئ نو په څلويښت ماشومانو باندي يو استاذ پکار دے۔ په دي Ratio باندي 1100 استاذان زمونږه د پيښور ډسټرکټ د پاره خالی پکار دی او ما ته دا وينا شوي ده، ما ته لږ ډير فګرز چا راکړی دی نو په دي ځل 10000 ايډيشنل ټيچران زمونږ د صوبي د پاره پکار دی۔ سر، اوس تاسو ته هم پته ده چي د پی ايس ټی او د نورو ټيچرانو د پاره زمونږه که څه ايډورټائزمنټس شوی دی، په هغي کښي د ټول پيښور د پاره 220 پی ايس ټی ټيچران دی، پکار 1100 دی او صرف 220 په

هغي کښي ټيچران مونږ ته ملاؤ شوی دی، 160 Male دی او 60 Female دی۔ بيا چي کوم نوی پراجيکټس دی جی، نوی چي کوم پراجيکټس دی چي هغه تاسو ته هم ملاويږی، مونږ ته هم ملاؤ شوی دی نو د هغي پهٔ ديکښي حساب کتاب نشته جی۔ سر، دا دومره ضروری پرابلم دے، دا دومره لويه مسئله ده خو ما ته نهٔ ښکاری چي پهٔ ديکښي څه کيږی لګيا دی۔ زهٔ نهٔ يم خبر چي ايجوکيشن ډيپارټمنټ فنانس ته پهٔ ديکښي ايس اين ای موؤ کړي ده، که نهٔ ده موؤ کړي او که کړي ئے ده نو د فنانس پهٔ ديکښي څه دغه دے، د هغوی Reaction څه وو، هغوی دا ايس اين ای ولي نهٔ ده پاس کړي؟ سر، د ايجوکيشن غوندي Important شے چي د هغي سره به زمونږ د قوم مستقبل جوړيږی او زمونږه دا Attitude وی چي 1100 استاذان پی ايس ټی خالی پکار دی، داسي د سائنس ټيچران پکار دی، داسي سی ټی پکار دی، داسي د اے ټی پکار دی، داسي قاريان پکار دی، داسي ټی ټی پکار دی خو سر، زما پهٔ خيال کښي چي خالی دا فګر تاسو اوګورئ کنه جی او نيشنل پاليسی او آئين دغه کيږی نو مونږه د آئين هم Violation کوؤ لګيا يو او خپله ئے چي کومه پاليسی جوړه کړي ده، د هغي هم Violation کوؤ۔ سر، دا کال آټينشن مے ولي راوستے دے؟ ځکه مے راوستے دے چي اوس به اے ډی پی د نوی کال د بجټ هم راځی خو چي تر څو پورے مونږ خپل ماشومان ايجوکيټ کړی نهٔ وی، زمونږ دا مستقبل پهٔ سړکونو او پهٔ نورو څيزونو باندي نهٔ بدليږی نو زما ريکويسټ دا دے ايجوکيشن ډيپارټمنټ ته، فنانس ډيپارټمنټ ته او خاصکر خپل مشرانو ته هم چي دا Red tapism د ختم کړی او دا پلاننګ د شروع کړی چي کم از کم دا څومره ضرورت دے، کومه زمونږه پاليسی ده، کوم زمونږ Yardstick دے چي د هغي مطابق خو زمونږ سره دا استاذان چي څومره زر کيدے شی، دا ميسر شی، ولي چي زمونږ د ماشومانو مستقبل پهٔ دي باندي پهٔ داؤ دے چي خلق ايجوکيټ شی۔ ډيره مهربانی۔

<u>جناب سپیکر</u>: *شکریہ جی۔ چونکہ سردار بابک صاحب نہیں ہیں تو جناب بشیر احمد بلور صاحب، سینیئر منسٹر فار لوکل گورنمنٹ، پلیز۔*

جناب بشیر احمد بلور {سینیئر وزیر (بلدیات)}: سپیکر صاحب، څنګه چي زمونږه ورور خبره اوکړه، پۀ دي باره کښي پرون مونږ پۀ کیبنټ کښي هم ډیر ډسکشن اوکړو چي پۀ دیکښي داسي ده چي کوم وخت سکول تیار شی، کوم وخت چي دا د ایس این ای د پاره لاړ شی نو زمونږ دا فنانس ډیپارټمنټ وائی چي د دي انتقال راوړئ یا د دي ډاکیومنټس راوړئ نو د هغه وخت پوري هغوی دا پوسټونه نۀ Sanction کوی نو مونږ دا خبره پرون وکړه چي دا یو سکول جوړیږی، پۀ هغي باندي پۀ لکهونه روپئ د حکومت اولګی نو پکار دا ده چي د هغه وخت پوري د دا سی اینډ ډبلیو سکولونه نۀ جوړوی چي انتقال ورسره نۀ وی او چي کوم سکولونه جوړ دی یا چرته داسي وی نو خامخا پکار ده چي د هغي پوسټونه Sanction کړی۔ پۀ هغي کښي بیا دا فیصله اوشوه چي د علاقے ډی سی او د اووائی چي او دا سکول دلته شته او مونږ ته اعتراض نشته او ورسره به د علاقے ایم پی اے دستخط کوی نو د نن نه پس به فنانس ډیپارټمنټ هغه څومره پوسټونه چي دی، هغه به خامخا Sanction کوی۔ زما ورور چي کومه خبره وکړه، دا بالکل ټهیک ده خو بیا هم ما ته چي د هغه ډیپارټمنټ د طرف نه کوم دغه راغلی دی نو هغوی وائی چي 1671 زنانه او مردانه ایس ایس ټی والا چي دی، هغۀ مونږه اخستي دی سپیشل سبجیکټ والا او بیا ورسره وائی چي مونږه تقریباً 922 دغه پبلک سروس کمیشن ته لیږلی دی چي د هغي نه راشی، خامخا به هغۀ Accommodate کوؤ او بیا ورسره هغوی دا لیکلی دی چي "*17 گریڈ کے 680 اور 18 گریڈ کے 26 پرنسپلز کی تقرریاں ہوچکی ہیں*" او پۀ 16 ګریډ کښي هم هغوی دا وائی چي مونږ تقریباً د ایک ګریډ نه د 15 پوري ضلعی حکومتونو ته دا اجازت ورکړے دے چي هغوی د پخپله علاقه کښي واخلی۔ د دوئ چي کوم اعتراض دے، دا رښتیا خبره ده چي پۀ ټول هاؤس کښي هم دا پرابلم دے، پۀ ټولو سکولونو کښي دا پرابلم دے۔ زما به دا خواست وی چي دا تاسو پینډنګ کړئ چي منسټر صاحب پخپله راشی او پۀ دي باندي ټول خلق خبري وکړی نو بیا به هغوی صحیح جواب ورکړی او زما خیال دے چي دا هاؤس پري ټول Satisfied کول غواړی نو هغه منسټر چي پخپله راشی نو هغه به صحیح طریقے سره خبره وکړی، ما ته چي هغوی دا کوم

Written را کړے دے ، هغه خو ما تاسو ته اوښودلو ، Even I am not satisfied from this نو هاؤس به زهٔ څنگه Satisfy کوم؟

جناب سپیکر: ټهيک شوه جی، پينډنگ به ئے وساتو جی خو دا يو ډير ضروری څيز دے ، ضرورت دے ، د وخت ضرورت دے او د دهٔ اشاره زما پهٔ خيال پی ايس ټی ټيچرز ته ده۔

جناب ثاقب اللہ خان چمکنی: او جی، بالکل پهٔ ديکښي دا ټول راځی، پهٔ ديکښي پرائمری ټيچرز هم راځی۔

جناب سپیکر: پرائمری ټيچرز کنه؟

جناب ثاقب اللہ خان چمکنی: او سر، بالکل جی، دا مونږه چي کوم فگرز تاسو ته Quote کړل، پهٔ ديکښي نوی سکيمونه نهٔ دی جی، پهٔ زړو سکولونو کښي چي دا انرولمنټس زيات شوی دی جی او پهٔ 40 :1 بانديُ دا 1100 خالی پی ټی سی دغه کيږی نو چي کوم ريکروټمنټ روان دے جی، څنگه چي سينئر منسټر صاحب خبره وکړه جی، د دوئ شکريه ادا کومه چي دا ضروری دغه دے۔

جناب سپیکر: This is pending۔ ایجوکیشن ڈیپارٹمنٹ ذرا اس پر ورک کرے، آنریبل ممبر صاحب کا جو وہ ہے اور سینیئر منسٹر صاحب نے جس طرح کہا ہے، اس پر پورا ورک کرے تاکہ ہاؤس کی Satisfaction ہو۔ Malik Qasim Khan Khattak Sahib, to please move his call attention notice.

ملک قاسم خان خٹک: شکریہ جی۔ جناب سپیکر، میں آپ کی توجہ ایک اہم مسئلے کی طرف مبذول کرانا چاہتا ہوں اور وہ یہ کہ اس موضوع کا تعلق انسانی بنیادی حقوق سے ہے اور عوام کو تمام بنیادی حقوق کی فراہمی حکومت وقت کی ذمہ داریوں میں شامل ہے۔ صوبہ خیبر پختونخوا میں رہنے والے ہر شہری کا بنیادی حق ہے کہ اس کی جان و مال کا تحفظ یقینی بنایا جائے۔ اس اہم فریضہ کو ضلع کی سطح پر پہنچانے کیلئے حکومت نے ہر ضلع میں شہری دفاع کے دفاتر، فائر بریگیڈ عملہ اور ضروری ساز و سامان کا اہتمام کیا ہے لیکن ضلع کرک کو ان بنیادی حقوق سے محروم رکھا گیا ہے، لہذا ہوم سیکرٹری اور ڈائریکٹر سول ڈیفنس شہری دفاع کو ہدایت جاری کی جائے کہ وہ ہنگامی بنیادوں پر ضلع کرک میں شہری دفاع کا دفتر، فائر بریگیڈ بمعہ عملہ اور ضروری سامان کا قیام عمل میں لائیں تاکہ ضلع کرک کو باقی ضلعوں کی طرح ان کے بنیادی حقوق مل سکیں۔

جناب والا، دا سول ډیفنس پهٔ هره ضلع کښي ډیر ضروری دے او ضلع کرک خو داسي د 1982 نه ضلع جوړه ده، مونږ دا حکومت وقت ته ریکویسټ کوؤ چي دوئ پهٔ دیکښي انتظام وکړی۔

<u>جناب سپیکر:</u> جی جناب آنریبل سینئیر منسٹر صاحب، بشیر بلور صاحب۔

<u>جناب بشیر احمد بلور{سینئیر وزیر(بلدیات):</u> سپیکر صاحب، زهٔ شکر گزار یم د ملک قاسم خټک صاحب چي دوئ کومه خبره وکړه، پهٔ دیکښي ما مخکښي هم یو ځل زما خیال دے پهٔ دي هاؤس کښي وئیلی وو چي اوسه پوري تقریباً زمونږ پهٔ دي وخت کښي Sixty five ټی ایم ایز دی چي هغوی ته مونږه ټاؤن وایو او پهٔ Sixty five کښي تقریباً Thirty two ټاؤنز داسي دی چي د هغوی سره فائر بریګیډ نشته او دا تقریباً څو څو حکومتونه تیر شویدی او هیچا هم پهٔ دي خیال نهٔ دے کړے نو خدائے مه کړه چرته اور اولګی او هغوی ته هډو ابهٔ نهٔ وی او بیا خامخا ټول اوسوزی او بس اخر دا وی چي پخپله مړ شی، نور وسائل ورسره نشته نو زمونږ حکومت دا فیصله کړي وه او دا د اے ډی پی سکیم هم دے چي مونږ ټول ټی ایم ایز ته، دوئ خو خالی یؤ کرک ډسټرکټ یادوی خو چي پهٔ صوبه کښي څومره ټی ایم ایز دی، ټولو ته یؤ یؤ فائر بریګیډ به انشاء اللّٰه Sanction شی او مونږ به ئے ورکوؤ او کوشش کوؤ چي پهٔ دي کال کښي دننه دننه، د دي جون نه مخکښي مخکښي هر یؤ ټی ایم اے ته یؤ یؤ فائر بریګیډ ورکړو او تقریباً Thirty five او 20 کروړ روپئ مونږ پهٔ اے ډی پی کښي ساتلي دی نو انشاء اللّٰه کوشش کوؤ چي پهٔ دي کال کښي او هغه پراسس لړ اوړد وو، پهٔ دي وجه باندي لیټ شو ګنی مونږه به د مخکښي نه دا ورکړی وو او د دوئ دا خبره چي ده، د دي سره زهٔ Agree کوم او دا دوئ چي کوم د سول ډیفنس خبره وکړه، د دي سره هم Agree کوؤ او دا به هم انشاء اللّٰه کوشش کوؤ چي زر تر زره هلته کهلاؤ کړو نو دا ده چي دا فائر بریګیډ خو زما ذمه داری ده او انشاء اللّٰه ټول ټی ایم ایز ته به دا ورکوؤ جی۔

<u>جناب سپیکر:</u> شکریه بشیر بلور صاحب۔

## ہنگامی قانون مجریہ 2012 کا ایوان کی میز پر رکھا جانا

## (اعلیٰ تعلیمی قابلیت پر ایڈوانس انکریمنٹ کے بقایاجات کا خاتمہ)

Mr. Speaker: Honourable Minister for Finance, Khyber Pakhtunkhwa, to please lay on the table of the House, 'The Khyber Pakhtunkhwa Cessation of Payment of Arrears on Advance increments on Higher Educational Qualification Ordinance, 2012'. Honourable Minister for Finance, please.

Mr. Muhammad Hamayun Khan (Minister for Finance): Mr. Speaker Sir, I beg to lay on the table of the House, 'The Khyber Pakhtunkhwa Cessation of Payment of Arrears on Advance Increments on Higher Educational Qualification Ordinance, 2012' in the Provincial Assembly.

Mr. Speaker: It stands laid.

## مجلس منتخبہ کی رپورٹ بابت مسودہ قانون خیبر پختونخوا مقامی حکومت، مجریہ 2010 کی مدت میں توسیع

Mr. Speaker: Mr. Bashir Ahmad Bilour Sahib, honourable Senior Minister for Local Government / Chairman Select Committee, to please move for extension in period for presentation of the report of the Select Committee with regard to the 'Khyber Pakhtunkhwa Local Government Bill, 2010' under rule 94 of the Provincial Assembly of Khyber Pakhtunkhwa, Procedure & Conduct of Business Rules, 1988. Honourable Minister Sahib, please.

Mr. Bashir Ahmad Bilour {Senior Minister (Local Government)}: Thank you very much, Mr. Speaker Sahib. A Select Committee on 'Khyber Pakhtunkhwa Local Government Bill, 2010 was constituted on 9th April, 2010 on the decision of the House taken in its meeting held on 25th March, 2010. The House extended the time period for presentation of the report in the House till 30th April, 2011. It is, therefore, requested that the time period for presentation of the report may be extended from 1st May, 2011 till date.

Mr. Speaker: The motion before the House is that extension in period may be granted to the honourable Senior Minister for presentation of the report of Select Committee on 'Khyber Pakhtunkhwa Local Government Bill, 2010? Those who are in favour of it may say 'Aye' and those against it may say 'No'.

(The motion was carried)

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it. Extension in period is granted.

## مجلس منتخبہ کی رپورٹ بابت مسودہ قانون خیبر پختونخوا مقامی حکومت، مجریہ 2010 کا پیش کیا جانا

Mr. Speaker: Now Mr. Bashir Ahmad Bilour, honourable Senior Minister for Local Government and Chairman Select Committee, to please present before the House the report of the Select Committee with regards to the 'Khyber Pakhtunkhwa Local Government Bill, 2010'. Honourable Senior Minister Sahib, please.

Senior Minister (Local Government): Thank you very much, Mr. Speaker. Sir, I beg to present the report of Select Committee on 'Khyber Pakhtunkhwa Local Government Bill, 2010' in the House.

Mr. Speaker: The report stands presented.

## قومی مالیاتی ایوارڈ جنوری تا جون 2011 پر عملدرآمد کی نگرانی کی دوسری دو سالہ رپورٹ کا ایوان کی میز پر رکھا جانا

Mr. Speaker: Honourable Minister for Finance, Khyber Pakhtunkhwa, to please lay on the table of the House 'The report on second Biannual Monitoring on the Implementation of NFC Award' for the period from January to June 2011. Honourable Finance Minister Sahib, please.

وزیر خزانہ: سپیکر صاحب، میں اسلامی جمہوریہ پاکستان کے آئین کے آرٹیکل 160 کی شق (b) 3 کی روشنی میں ساتویں این ایف سی ایوارڈ کی دوسری 'Biannual monitoring report' برائے جنوری 2011 تا جون 2011 اس معزز ایوان کے سامنے پیش کرتا ہوں۔

Mr. Speaker: It stands laid.

## بنوں ڈسٹرکٹ جیل پر دہشت گردوں کا حملہ

Mr. Speaker: Honourable Muhammad Akram Khan Duranni Sahib, Leader of the Opposition, please.

جناب اکرم خان درانی (قائد حزب اختلاف): محترم سپیکر صاحب، آپ کا بہت بہت شکریہ۔ محترم سپیکر صاحب، ایک بڑا اہم مسئلہ میرے خیال میں پاکستان کی تاریخ میں ایک ایسا المناک واقعہ جس پہ پورے پاکستان کے عوام کو بھی تشویش ہے اور خیبر پختونخوا کے عوام کو بھی ہے اور ہمارے جتنے بھی ادارے ہیں، وہ

بھی اس واقعے سے عجیب قسم کی صورتحال میں ہیں اور وہ واقعہ ہے بنوں جیل کا۔ سپیکر صاحب، بنوں جیل کو رات کے وقت ایک عجیب سی صورتحال کا سامنا ہوا، جس پہ ہم خود بھی حیران ہیں، شاید اس پہ گورنمنٹ کو بھی حیرانگی ہوگی اور یہ ایک ایسا ہی واقعہ ہوا ہے کہ پورے ملک میں اور شاید اس خیبر پختونخوا میں حکومت نام کی کوئی چیز ہے ہی نہیں اور اس واقعے نے ہمارے اداروں کو جو نقصان پہنچایا ہے، اداروں کے اندر جو مایوسی پھیل گئی ہے اور اس کا جس قدر اثر معیشت پہ پڑا ہے کہ کیا ایک ایسا ملک بھی ہے اور اس میں ایک ایسا صوبہ بھی ہے، جس کے ایک ضلع میں تقریباً چالیس پچاس گاڑیاں بہت دور سے آ رہی ہیں اور گورنمنٹ کے کسی بھی انٹیلی جنس ادارے کو وہ معلوم نہ ہوں، وہاں پر جو لوکل ایڈمنسٹریٹر ہے، اس کو بھی معلوم نہ ہوں اور پھر تین چار گھنٹے کی کارروائی کر کے بڑے آرام کے ساتھ، جس طرح ایک آدمی اپنے گھر میں کوئی کام کر رہا ہو اور اس کو اس قسم کی کوئی فکر نہ ہو کہ گھر کا کوئی دوسرا آدمی مداخلت بھی کرے گا اور مجھے اپنے گھر کے کام سے روکے گا بھی اور اس دوران گورنمنٹ کی کوئی بھی مشینری کہیں پہ بھی حرکت میں نہ ہو اور سب کچھ کرنے کے بعد پھر آرام کے ساتھ کہ اس میں کوئی زخمی بھی نہ ہو، اس میں کوئی دوسری قسم کی تکلیف بھی نہ ہو، یہ میرے اپنے تجربے کے مطابق جو کہ میری زندگی میں میرے سامنے ایسا واقعہ کبھی نہیں آیا ہے اور دعا بھی کریں گے کہ اس ملک پاکستان میں اور خیبر پختونخوا میں اس قسم کا شرمناک واقعہ کبھی بھی نہ آئے۔ ابھی جب ہم پوچھتے ہیں، چونکہ میرا اپنا ضلع ہے، ہزاروں لوگ مختلف قسم کی باتیں بھی کرتے ہیں اور جب لوگ آخری نتائج پہ پہنچتے ہیں تو سب یہ سمجھتے ہیں کہ یہ گورنمنٹ کی رضامندی کے بغیر نہیں ہو سکتا۔ اگر اس قسم کے واقعات گورنمنٹ کی رضامندی کے مطابق ہوں اور وہاں پر بہت سے لوگ کچھ مجرم ثابت ہوئے ہوں، کسی نہ کسی کا نقصان کیا ہو، کسی نہ کسی کے باپ کو قتل کیا ہو، کسی نے کوئی دوسرا نقصان کیا ہو اور وہ بھی آرام کے ساتھ چلے جاتے ہیں اور پھر دوسری شرمناک بات یہ ہے کہ پھر ان لوگوں کے، جن کے بھائی، جن کے بیٹے، جن کے بھتیجے، جن کے رشتہ دار جیل میں ہیں اور پھر گورنمنٹ جاتی ہے، اس کے باپ کو اٹھاتی ہے، اس کے بھائی کو اٹھاتی ہے، اس کے گھر والوں کو تکلیف دیتی ہے کہ وہ آدمی جو ہم نے پکڑا تھا، وہ کدھر ہے؟ تو اب یہ عجیب سی صورتحال ہے کہ پھر وہ باپ جاتا ہے، بھائی جاتا ہے، اس کی بہن جاتی ہے، اس کا بیٹا جاتا ہے اور عدالت میں درخواست دیتا ہے کہ میرا باپ، میرا بھائی، میرا بھتیجا گورنمنٹ کی تحویل میں تھا تو خدا کیلئے مجھے یہ بتادیں کہ میرا بیٹا زندہ ہے، مجھے یہ بتادیں کہ وہ کہاں پہ ہے اور گورنمنٹ اس کو یہ نہیں بتا سکتی لیکن اس کے باوجود بھی اذیت دیتی ہے اور لوگوں کے

گھروں پہ پولیس چھاپے مارتی ہے اور والدین سے مطالبہ کرتے ہیں کہ آپ کا بیٹا جیل سے بھاگ گیا ہے اور آج تک آپ کا بیٹا آیا نہیں ہے تو کدھر ہے؟ والدین پوچھتے ہیں حکومت سے اور حکومت ان کو اٹھاتی ہے اور ان سے پوچھتی ہے۔ ابھی مختلف قسم کی Writs عدالتوں میں ہیں، ماں جاتی ہے اور اپنے بیٹے کیلئے گورنمنٹ سے مطالبہ کرتی ہے، بہن جاتی ہے اور گورنمنٹ اس کے باوجود ان کو تکلیف دیتی ہے اور دوسری عجیب بات جو ہے، وہ یہ ہے کہ ڈی آئی جی کو Suspend کیا جاتا ہے، کمشنر کو بھی Suspend کیا جاتا ہے اور اس Cell کا جو سب سے زیادہ ذمہ دار آدمی ہے، میں ابھی یہ نہیں کہہ سکتا کہ اس کو میں ملزم کہہ دوں یا مجرم؟ اس واقعے کا جو انتہائی ذمہ دار اور اہم آدمی ہے، وہ ہے بنوں کا ڈی سی او ظاہر شاہ۔ بنوں کا ڈی سی او ظاہر شاہ نہ صرف گورنمنٹ کا ذمہ دار ہے، جس کے ہاتھ میں وہاں کی ایڈمنسٹریشن ہے بلکہ ڈی سی او بنوں کی دو قسم کی حیثیت ہے۔ ایک تو بطور Settled area کے ایڈمنسٹریٹر کے سب کچھ ان کے ہاتھ میں ہے اور دوسرا یہ کہ یہ پولیٹیکل ایجنٹ بھی ہے یعنی کوہاٹ، بنوں، لکی مروت اور ڈی آئی خان کا جو ڈی سی او ہوتا ہے، ان کے پاس Settled بھی ہوتا ہے اور ایف آر بھی ہوتا ہے تو یہ پینتالیس گاڑیاں جب آتی ہیں، یہ سب سے پہلے ڈی سی او صاحب کی Jurisdiction میں ایف آر کا جو علاقہ ہے، جو چیک پوسٹیں ہیں، اسی سے آتی ہیں اور ڈی سی او صاحب جو ہے، لوگ کہتے ہیں مجھے معلوم نہیں، سنی سنائی باتیں آتی ہیں کہ ڈی سی او کو اس واقعے کا پہلے سے علم تھا اور اس نے بہانہ بنا کر ضلع چھوڑ دیا تھا کہ اگر یہ واقعہ ہو جاتا ہے تو مجھ پہ کوئی ذمہ داری نہ آئے، یہ عوام کی وہ باتیں ہیں، آپ کے پاس بھی لوگ آتے ہیں، ہمارے پاس بھی آتے ہیں اور یہ بھی باتیں سننے میں آتی ہیں کہ بنوں کا جو ڈی سی او ہے ظاہر شاہ، یہ صرف ڈی سی او نہیں ہے بلکہ اس کی عدالت جو ہے، ایک دکان کی حیثیت کی طرح ہے۔ دکان میں سب کچھ بکتا ہے، سب چیزوں کا وہاں پر اپنا اپنا ریٹ ہوتا ہے اور جب کمشنر کو معطل کیا جاتا ہے، ڈی آئی جی کو معطل کیا جاتا ہے اور بیس دن پہلے جب ایک آئی جی جیلخانہ جات آتا ہے، اس نے پورے محکمے کا ابھی تک چھان بین بھی نہیں کیا ہو گا یا جیلوں میں بھی نہیں گیا ہو گا، اس کو تو سزا دی جاتی ہے لیکن اس ذمہ دار ڈی سی او کو اس ضلع کا ایکٹنگ کمشنر بنا دیا جاتا ہے، یہ افسوس کی بات ہے، لہٰذا زیادہ ذمہ دار حیثیت کا جو آدمی ہے، ڈی سی او ظاہر شاہ، اس سے یہ پوچھا جائے کہ آپ نے کس نیت سے، کس منصوبہ بندی کے تحت وہاں سے چھٹی لی تھی اور وہاں سے آئے تھے؟ لوگوں کی باتیں یہ ہیں کہ اس کو سب پہلے سے معلوم تھا اور اگر ایک آدمی اتنا ناکام ہو کہ اس کے ساتھ پورے ایف آر کے لوگوں کا واسطہ ہو اور اس کی انٹیلی جنس اتنی ہی ناکام ہو کہ پورے دو گھنٹے تک اس کے

ایریا میں اتنا بڑا قافلہ آئے اور نہ اس کے خاصہ دار کو علم ہو، نہ اس کا اپنا کوئی Source ہو کہ اس کو علم ہو اور اس انتہائی قابل اور انتہائی ایماندار آدمی کو ڈی سی او کے بعد وہاں کا کمشنر بھی مقرر کیا جاتا ہے کہ آپ واقعی ایک ہی آدمی ہیں کہ آپ کا کام بالکل درست ہے، تو یہ واقعات اگر اس طرح ہوتے ہیں، مجھے اس پہ بھی حیرانگی ہے کہ بہت چھوٹی سی چھوٹی چیزوں پہ عدلیہ بھی سوموٹو ایکشن لیتی ہے لیکن بنوں جیل کے اس واقعے پہ خاموشی کیوں ہے؟ گورنمنٹ کی بھی ہے اور جو ذمہ دار لوگ ہیں، ان کی بھی ہے۔ آج یہاں پر اس ہاؤس کے سامنے میں جو بات کر رہا ہوں، خدارا لوگوں کا اعتماد گورنمنٹ پر سے اٹھ رہا ہے۔ اگر آپ کے بھائی اور بیٹے جیل میں بھی محفوظ نہ ہوں، گھروں کی تو یہ صورتحال ہے کہ آج اخبارات کی سرخیاں ہیں کہ 20 کروڑ کی ڈکیتی، 15 کروڑ کا سونا اور چاندی، آج کی سرخی ہے کہ ایک صراف یا سونے کے تاجر کی دکان سے رات کے وقت 20 کروڑ روپے لوٹ لئے گئے۔ خدا کیلئے یہ ہم کدھر جا رہے ہیں، ہم اپنے عوام کو کیا تحفظ دے رہے ہیں، ہم اپنے لوگوں کی کس طرح خدمت کر رہے ہیں؟ سپیکر صاحب، یہ ہاؤس بہت ذمہ دار ہے، اگر اس ہاؤس نے ان چیزوں پہ توجہ نہ دی، یہاں پہ اس صوبے کا جو بدتر حال ہے، اس پہ توجہ نہیں دی تو آپ ووٹرز اور عوام کی بجائے خود بھی مجبور ہوں گے کہ اس صوبے سے نقل مکانی کریں کیونکہ یہاں پر امن ہوگا بھی نہیں۔ آپ کی معیشت بری طرح متاثر ہوئی ہے، کارخانے بند ہیں، دکاندار اپنی دکان سے واپس نہیں جا سکتا۔ جب روزانہ آپ اخبار اٹھاتے ہیں تو کسی کا بیٹا اغواء کر کے لے جایا جاتا ہے اور اس کے سامنے بھائی کو گولی، اس کے باپ کو گولی مار کے اس کے بیٹے کو پھر اٹھایا جاتا ہے تو یہ آپ کی چیئر سے میری استدعا ہے کہ خدارا یہ ہاؤس ان چیزوں کا نوٹس لے۔ ہم اگر روڈ بناتے ہیں تو آخری صورتحال ہماری یہ ہوگی کہ روڈ پہ چلنے کیلئے آدمی نہیں ہوگا اور روڈ ویران ہونگے۔ ہم جو دکانیں بناتے ہیں، اس کیلئے ہمارے پاس دکاندار نہیں ہوگا کہ وہاں پر وہ اس میں دکان کھولیں؟ اگر گورنمنٹ صحیح فیصلے کرتی ہے تو اس ہاؤس کے ذریعے میرا گورنمنٹ سے یہ مطالبہ ہے کہ آج تک بنوں کا جو ڈی سی او ہے ظاہر شاہ، میں اس پر نہیں جا رہا ہوں کہ اس کا تعلق کس ضلع سے ہے، کیوں وہاں پر اس کو کچھ نہیں کہا جا رہا ہے، یہ کوئی بات نہیں لیکن اگر کمشنر کو، آئی جی کو، وہاں پر ڈی آئی جی کو اور انتہائی ذمہ دار آدمی کو جو کہ ڈی پی او ہے، ابھی جو ڈپٹی کمشنر کے اختیارات دیئے گئے ہیں تو ڈی سی او کو تو ڈی پی او جوابدہ ہے اور یہ کسی نے معلوم ہی نہیں کیا کہ ڈی سی او نے واقعی اپنی اتھارٹی کو یہ بات پہنچائی ہے، آیا کمشنر کے نوٹس میں یہ بات لائی گئی ہے، آیا ڈی آئی جی کو یہ بات پہنچی ہے؟ میں اس میں نہیں ہوں، اس میں جو بھی ملوث ہوں، ابھی سزا کس کو ملے گی، جیل کے

بے چاروں پچاس سپاہیوں کو، وہاں پر جیل کے ایک سپر نٹنڈنٹ کو کہ آپ نے ان لوگوں کا مقابلہ کیوں نہیں کیا؟ ابھی جیل کے سپاہی کے پاس ایک کلاشنکوف ہوتا ہے یا تھری ناٹ تھری ہوتا ہے تو وہ تھری ناٹ تھری مارٹر کا اور بڑے گنوں کا مقابلہ نہیں کر سکتا تو جیل کا بے چارہ سپاہی اور یہ باتیں بھی سننے میں آئی ہیں کہ جیل کے عملے نے کال بھی کی ہے لیکن ان کی مدد کیلئے کوئی بھی نہیں آیا ہے۔ سپیکر صاحب، یہ ایک اہم بات جو کہ میرے ذہن میں تھی اور اس ایوان کے سامنے میں رکھنا چاہتا تھا۔ میری غرض قطعاً اُس سے یہ نہیں ہے، یہ جو بات میں کر رہا ہوں کہ یہ کوئی گورنمنٹ کی بدنامی کیلئے میں کر رہا ہوں بلکہ اگر گورنمنٹ اس طرح کے کاموں پہ توجہ نہیں دیتی ہے تو پھر اس سے ہمارے سامنے اور بھی بدنامی آئے گی تو میرا مطالبہ یہ ہے کہ اگر سب لوگوں کو سزا ہوئی ہے تو پھر کیوں ایک ظاہر شاہ وہاں پر اسی طرح بیٹھا ہے اور اپنی دکان کو دکانداری کی طرح اس طرح چلا رہا ہے؟ میں آپ کا بھی مشکور ہوں، یہاں پر پوری حکومت کا بھی مشکور ہوں اور ممبران اسمبلی کا بھی مشکور ہوں کہ انہوں نے مجھے وقت دیا اور میری باتوں کو بڑے غور سے سنا۔

<u>جناب سپیکر</u>: شکریہ جی۔

<u>جناب نصیر محمد میدادخیل</u>: جناب سپیکر!

<u>جناب سپیکر</u>: نصیر محمد خان! یہ تو بڑی تفصیل سے اس نکتے پر بات ہوئی۔ آپ-----

<u>مفتی کفایت اللہ</u>: جناب سپیکر!

<u>جناب سپیکر</u>: ودریرہ جی، هغوی هم د بنوں دی۔ اگر ایک منٹ آپ بولنا چاہتے ہیں، باقی لیڈر آف دی اپوزیشن نے تو پوری تفصیل سے بات کر لی۔

<u>جناب نصیر محمد میدادخیل</u>: جناب سپیکر، میں-----

<u>جناب سپیکر</u>: ایک منٹ کیلئے آپ بھی بولیں۔

<u>جناب نصیر محمد میدادخیل</u>: شکریہ، جناب سپیکر۔ جناب سپیکر، سمجھ نہیں آرہی ہے کہ میں اس اہم موضوع پر روؤں یا ہنسوں؟ جناب سپیکر، رونے کا مقام اسلئے ہے کہ بنوں جیل کے واقعے سے تین چار دن قبل ہمارے علاقے میں تعینات مسلح افواج کے دستوں نے میرے حلقے پی کے 75 کے تقریباً دس پندرہ دیہاتوں کی تلاشی لی اور اس تلاشی کے دوران وہاں سے کلاشنکوف کو تو چھوڑیں، شارٹ گن اور سنگل شارٹ رائفلیں بھی اٹھا کے لے گئے اور یہاں تک کہ بعض مقامات اور بعض گھروں سے چھریاں تک لے جانے کی اطلاع ہمیں ملی ہے۔ جب یہ اطلاع ہمیں ملی تو میں آپ کو یہ بتاتا چلوں کہ اس وقت پورے

صوبے میں واحد ایک ضلع لکی مروت ہے، جس میں امن کمیٹی فعال انداز میں اپنا کردار عوام، افواج پاکستان اور حکومت پاکستان کے درمیان ایک مکمل رابطے کا کام کر رہی ہے لیکن افسوس صد افسوس کہ ہماری ترجیحات جو اس علاقے میں امن کیلئے تھیں، اس کو نظر انداز کرتے ہوئے ہمارے معصوم لوگوں پر یلغار کرتے ہوئے آج بھی میرے تین دیہاتوں کا محاصرہ کر کے تلاشی لی جارہی ہے اور بڑے افسوس سے کہنا پڑتا ہے کہ تین دن پہلے ان کی طرف سے ہمیں اطلاع آئی کہ طالبان یہاں آئے ہیں اور ان کیلئے عوام نکل کر روڈیں بند کر دیں۔ کتنے افسوس کی بات ہے کہ ایک طرف ہم سے تعاون کی درخواست کی جارہی ہے اور دوسری طرف ہمارے گھروں کی بے عزتی ہو رہی ہے۔ جناب سپیکر! میں آپ کی توجہ کا۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: جی جی۔

جناب نصیر محمد میداد خیل: یقیناً آپ کیلئے یہ ایک معمہ ہے کہ ہم اس مسئلے پر کیوں بول رہے ہیں؟ یہ آپ کیلئے ہو گا لیکن ہمارے لئے نہیں ہے۔ ہمارے لئے ہماری عزت ہی سب کچھ ہے۔ ہمارے گھروں کی، ہماری عورتوں کی اور ہمارے بچوں کی عزت ہمیں سب سے زیادہ مقدم ہے۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: بالکل ہے جی۔

جناب نصیر محمد میداد خیل: اور بالکل جب افواج پاکستان جو ایک فاتح فوج کی طرح داخل ہو کر گھروں میں لوگوں کو مارتی ہیں، ان کی بے عزتی کرتی ہیں اور ان کی بے پردگی کرتی ہیں تو کس انداز میں اور کہاں جا کر ہم روئیں، یہی وہ جگہ ہے جو ہماری رونے کی جگہ ہے، چاہے کسی کو اچھا لگے، چاہے کسی کو برا لگے؟ ہو سکتا ہے کہ کل پرسوں کسی راستے پر آپ سنیں کہ نصیر محمد کو کسی نے مار دیا ہے۔ ہمیں مرنے کی پرواہ نہیں ہے، یقیناً ایک دن مرنا ہے لیکن ہم چاہتے ہیں کہ عزت سے ہمیں موت آئے مگر جس طریقے سے ہماری بے عزتی ہو رہی ہے، جس طریقے سے ہماری عزت کو پامال کیا جارہا ہے تو اس پر یقیناً ہمیں افسوس ہے۔ جناب سپیکر، جہاں تک یہ کہ بنوں جیل کا جو واقعہ ہوا ہے، یقیناً یہ اگر ایک طرف افسوسناک ہے تو دوسری طرف لمحہ فکریہ بھی ہے۔ جب جیل جیسی محفوظ جگہ بھی وہاں پر محفوظ نہیں ہے اور یہاں پر بیٹھے ہوئے ہمارے وزراء صاحبان ایک دوسرے پر کیچڑ اچھالنے کی کوشش کرتے ہیں تو ہمیں افسوس سا ہوتا ہے اور ان کی بھی بات ایک نہیں ہے۔ بہر حال جناب سپیکر، آج سے تین دن پہلے میں اپنے حجرے پر بیٹھا ہوا تھا، میرے پاس چند لوگ آئے اور ان میں ایک سادہ سا لیکن تعلیم یافتہ سا شخص تھا اور اس نے جو بات مجھے کہی تو مجھے حقیقت میں ایسا اعتماد ہوا کہ جیسے میں نے اپنی آنکھوں سے یہ چیز ہوتی ہوئی دیکھی ہو۔ وہ کیا کہنے لگا؟ گو کہ

یہ چیز شاید میرے لئے، میری جان کیلئے خطرہ بھی ہو جناب سپیکر، کہتا ہے کہ اس وقت جتنے بھی سپریم کورٹ اور ہائی کورٹ کے مطابق جو لاپتہ لوگ ہیں، وہ عدم پتہ ہوتے ہوئے اسی جیل سے فرار ہو چکے ہونگے تو یہ واقعی لمحہ فکریہ ہے اور اس واقعے پر کہ خدانخواستہ ایک طرف ہمارے لوگوں کو اٹھا کر، کل پرسوں مار کر ویرانوں میں پھینک دیا جاتا ہے، میں ثبوت کے ساتھ آپ کو کہتا ہوں لیکن اس پر بھی ہم خاموش رہتے ہیں۔ جناب سپیکر، آپ کو آج موقع ہے، یہ ملک جل رہا ہے، یہ صوبہ جل رہا ہے، اگر آج اس ایوان میں ان بیٹھے ہوئے عزت دار لوگوں نے، قابل اعتماد لوگوں نے اس مسئلے پر نہ سوچا تو خدانخواستہ، خدانخواستہ ایسی آگ پھیلے گی، ایسی وباء پھیلے گی کہ اس کا کوئی توڑ نہیں ہو گا۔ جناب سپیکر، ایک طرف ہم سے اسلحہ لیا جا رہا ہے اور دوسری طرف ہمیں بارڈر پر رہتے ہوئے ہمیشہ خطرہ رہتا ہے تو ایسے ماحول میں حکومت نے یہ علاقے کیوں افواج پاکستان کے حوالے کئے اور اگر بنوں، لکی اور ایسے دوسرے اضلاع جو افواج پاکستان کو نظم و نسق کے سلسلے میں حوالے کئے گئے ہیں تو وہاں پر جو کچھ بھی ہوتا ہے، اس کا ذمہ دار کمشنر اور ڈی آئی جی نہیں ہوتا بلکہ وہ ہیں جن کو یہ ذمہ داری اس حکومت نے حوالے کی ہے اور اگر یہ حکومت اپنی ذمہ داری سنبھال نہیں سکتی تو برائے خدا آج سے استعفیٰ دے کر چلی جائے، شاید آئندہ آنے والی اسمبلی اس پر سوچ کر تے ہوئے، اپنی ذمہ داری کو سنبھالتے ہوئے، اپنی ذمہ داری کو سمجھتے ہوئے ایسے مسئلوں پر سنجیدگی سے غور کرے گی۔ افسوس تو یہ ہے کہ وزیر داخلہ بھی کہتا ہے کہ جیل میں کوئی اسلحہ نہیں ہوتا، کوئی رائفل نہیں ہوتی مگر اسی جیل میں آپ نے جو مورچے بنائے ہوئے ہیں، یہاں پر آپ نے مارٹر گنیں رکھی ہوئی ہیں تو اس کو چلانے کیلئے کیا جیل کے قیدی جا کر چلائیں گے یا آپ کے فوجی کریں گے یا آپ کے جیل والے آفیسرز کریں گے؟ تو۔۔۔۔۔

<u>جناب سپیکر:</u> شکریہ، جناب نصیر صاحب۔ مفتی کفایت اللہ صاحب۔

<u>جناب نصیر محمد میداد خیل:</u> ایسے ماحول میں جناب سپیکر، میں بھی آپ سے۔۔۔۔۔

<u>جناب سپیکر:</u> شکریہ جی۔ مفتی کفایت اللہ صاحب۔

<u>مفتی کفایت اللہ:</u> جناب سپیکر صاحب، میں آپ کا شکریہ ادا کرتا ہوں اور میں ایک زیادہ اہم بات کی طرف ارباب حکومت کو متوجہ کرنا چاہتا ہوں کہ دارالعلوم حقانیہ اکوڑہ خٹک جو کہ صوبہ سرحد کا بہت بڑا دینی مدرسہ ہے اور پاکستان کے قیام کے بعد اس کو دیوبند ثانی کہا گیا۔ پرسوں اس کے ایک استاد اور ایک مشہور مدرس شیخ نصیب خان صاحب کو اغوا کیا گیا اور کل اطلاع آئی کہ ان کو شہید کر دیا گیا اور آج میں جب

یہاں کھڑا ہوں تو ان کا نہ نام کا کوئی پتہ ہے، نہ ان کی ایف آئی آر درج ہے اور نہ قاتلوں کا پتہ ہے۔ اگر میری اطلاع صحیح ہے تو یہ پبی کے مقام پر ان کو پکڑا گیا ہے اور پبی کے ہمارے بہت زیادہ فعال وزیر ہیں میاں افتخار صاحب اور آج کم از کم میں یہ امید رکھوں گا کہ میاں افتخار صاحب یہ ضرور کہیں گے کہ کن لوگوں نے پکڑا ہے اور کیوں پکڑا ہے؟ جناب سپیکر، ایک بات میں بتا دینا چاہتا ہوں، اس میں کوئی شک نہیں ہے کہ ہمیں دہشت گردی کا سامنا ہے اور جب دہشت گردی کا سامنا ہے تو ہونگے کچھ لوگ، جو اس کے اندر ملوث بھی ہونگے تو نہ ہم ان کی وکالت کر سکتے ہیں، نہ کفالت کر سکتے ہیں اور نہ عنایت کر سکتے ہیں۔ جناب سپیکر، یہ فلور اس بات کا گواہ ہے کہ ہم نے کئی بار کہا ہے کہ ہم اس ملک میں اسلام کیلئے ایک گولی کی حمایت نہیں کر سکتے اور بار بار چیخنے کے باوجود ہماری یہ گزارش ہے کہ کیا عدالتیں موجود نہیں ہیں، ان کو عدالت میں کیوں نہیں لایا جاتا، ان کا ٹرائیل کیوں نہیں کیا جاتا تو ماورائے قانون اور ماورائے عدالت کیوں ایسا عمل ہو جاتا ہے؟ جناب سپیکر، جب ایک شہری کو اس طرح اٹھا دیا جاتا ہے تو پھر میری جان بھی غیر محفوظ ہو گئی ہے اور میں آپ سے آج امید کرتا ہوں کہ اس طرح میری جان کو محفوظ بنا دیا جائے، آپ کی جان بھی غیر محفوظ ہو گئی ہے تو مجھے امید ہے کہ میاں افتخار صاحب اس کا جواب دیں گے اور میں ایک بات بھی بتا دینا چاہتا ہوں کہ بنوں جیل کے حوالے سے ہمارے اپوزیشن لیڈر نے بڑی تفصیلاً باتیں کی ہیں۔ مجھے یاد پڑتا ہے کہ لاہور لبرٹی چوک پر ایک واقعہ ہوا تھا اور اس کے بعد پھر یہ بتایا گیا تھا کہ چونکہ تمام کھلاڑی غیر محفوظ ہو گئے ہیں، لہذا یہاں کھیل نہ کھیلا جائے بلکہ کھلاڑیوں کو دبئی منتقل کر دیا گیا۔ اب جب بنوں جیل کا واقعہ پیش آ گیا تو تمام قیدی غیر محفوظ ہو گئے تو کیا ان تمام قیدیوں کو بھی دبئی منتقل کیا جائے گا؟ (قہقہے) اور جب تمام قیدی دبئی چلے جائیں گے تو ان کے ججز بھی منتقل ہونگے۔ میں آپ کی وساطت سے خیبر پختونخوا کے تمام قیدیوں کو مبارکباد دیتا ہوں کہ وہ دن بہت قریب آ گئے ہیں کہ انشاء اللہ آپ باقی سزا دبئی میں کاٹیں گے اور آپ دبئی میں ہونگے۔ (قہقہہ)

<u>جناب سپیکر:</u> جی میاں افتخار حسین صاحب۔

<u>مفتی کفایت اللہ:</u> جناب سپیکر! میاں صاحب سے یہ بھی پوچھیں۔۔۔۔۔

<u>جناب سپیکر:</u> پبی میں کیا ہوا ہے، آپ نے کیا کیا ہے؟

<u>مفتی کفایت اللہ:</u> میں شیخ نصیب خان صاحب کے قتل کی مذمت کرتا ہوں، اس کا جواب بھی دے دیں اور دوسری بات کا جواب بھی دے دیں۔

جناب سپیکر: جناب میاں افتخار حسین صاحب، آنریبل منسٹر فار انفارمیشن۔

میاں افتخار حسین (وزیر اطلاعات): ډیره مهربانی جی۔ چونکه د اپوزیشن مشر او مفتي صاحب دواړو په اردو کښې خبري اوکړي نو لږه ډیره اردو ما له راځي، زهٔ به په اردو کښې جواب ورکړمه جی چي دوئ۔۔۔۔

جناب سپیکر: خیر دے، ضروری نهٔ ده۔۔۔۔

وزیر اطلاعات: سب سے پہلے تو۔۔۔۔

جناب سپیکر: پهٔ پښتو کښې هم وئیلي شئ۔

وزیر اطلاعات: ما جی پهٔ اردو کښې ځکه ورکولو چي هغه میډیا والا هم داسي پوهه شی چي څنګه دوئ وئیلی دی کنه؟

جناب سپیکر: ټهیک ده جی، ستاسو چي څه خوښه وی۔

وزیر اطلاعات: ولي زما زړهٔ خو پهٔ پښتو کښې یخیږی خو ستاسو هدایات دی نو زهٔ به دا اووایم چي رشتیا خبره جی دا ده چي ډیري اهم مسئلي ته دوئ، مطلب دا دے چي دلته د هاؤس توجه ئے راګرځولي ده او پهٔ داسي موقع باندي چي دا واقعه شوي ده، هم پهٔ دغه رنګ الفاظو مونږه پهٔ میډیا کښې پهٔ دي انداز خبري کړی دی چي څنګه نن دلته د اپوزیشن لیډر اکرم درانی صاحب وکړي۔ فرق صرف دومره دے چي زمونږه به د درانی صاحب نه دا توقع ضرور وی چي هغوی به دلته کښې د حکومت او د اپوزیشن پهٔ ایماء نهٔ بلکه زمونږ د ټولو د ملګرتیا پهٔ بنیاد چي کومه مسئله مونږ ته راپیښه ده چي دا مونږه پهٔ هغه طریقه باندي Address کړو۔ دا د پوائنټ سکورنګ خبره هم نهٔ ده او پهٔ دي صوبه کښې چي کوم واقعات کیږی نو داسي نهٔ ده چي دا نن کیږی، د دي ډیري لوئي جرړی دی او دا به د دي نه نور هم غټ غټ واقعات کیږی۔ زمونږه موجوده حکومت د دي ټولو واقعاتو د مخ نیوی د پاره ځومره قربانئ ورکړی دی او پهٔ کوم انداز لګیا دی، دا دي ټولي دنیا ته پته ده او ټوله دنیا ئے معترف ده۔ که چرته دا صورتحال پهٔ بل ملک کښې وے نو نن به د هغوی پهٔ نقشه باندي نوم هم نهٔ وو۔ زمونږ خلق چي کوم دی، د پینځلسو او د شلو ورځو جنګ پري تیر شی، هغوی پهٔ سوؤنو سوؤنو کلونو باندي خپل ځان نهٔ شی سنبهالولے۔ پهٔ مونږ باندي د پینځه دیرشو

کالو راسے مطلب دا دے تپلے شوے جنګ پۀ مونږه مسلط دے او زمونږه کورونه، بازارونه، سکولونه، جماتونه، زمونږه بچی، زمونږه خویندي، میاندي او دا ټول پۀ وینو کښي ککړ او تباه و برباد دی او ډیر ژور نظر دي ته پکار دے او چي نن دا واقعه کیږی نو ولي کیږی، دا د څه تسلسل دے ؟ دا داسي نۀ ده چي پۀ هوا کښي یو واقعه اوشوه او د خیبر پختونخوا حکومت ته چه کوم دے نو داسي ګنی انوکها واقعه شوي ده، د دي نه مخکښي هم ډیر غټ غټ واقعات شوی دی۔ مونږ پۀ دي هاؤس کښي ډیر ممبران لیدلی دی چي د فلانکښي کلی نه ئے ښځي وتښتولي۔ دا زمونږ د دي حکومت نه مخکښي خبري وي چي پۀ کوم ځائے کښي، زۀ نصیر صاحب ته هم ډیر پۀ معذرت سره وایم چي هم پۀ دي اسمبلئ کښي، انور کمال صاحب د خدائے پاک اوبخښی، هغوی پاڅیدل چي د لکی نه دوه ښځي وتښتولي شوي، هغه وخت د دي حکومت دور نۀ وو خو دا د دي خبره نۀ ده چي ګنی تیر حکومت یا اوڅنے حکومت، د هغي نه مخکښي د حکومتونو چي کومي پالیسئ وي، هغه زمونږ پۀ دي حکومتونو راپریوتي، مونږه د یؤ سخت مشکل سره مخامخ یو نو هغه خبرو ته ډیر پۀ ژور نظر کتل غواړی۔ جناب سپیکر صاحب، زمونږه دا ملاکنډ ډویژن چي د جنت پۀ شان زمکه او خاوره ئے وه، هغه د دوزخ پۀ شان ولي شوه او نن هغه د دوزخ شکل جنت طرف ته ولي روان دے او د چا پۀ قربانو باندي روان دے ؟ دا دومره غټه واقعه، پۀ ټوله دنیا کښي تر اوسه پوري د دهشتګردئ خلاف هیڅ یو کامیاب، Successful story د چا سره نشته۔ که چرته پۀ دنیا کښي څوک مثال ورکوی نو هغه د ملاکنډ ډویژن ورکوی او هغه زمونږ د دي حکومت د کامیابي حکمت عملئ پۀ بنیاد باندي د دي مثال ورکړے کیږی خو دا کریډټ مونږ ځان له نۀ اخلو ځکه چي دا اپوزیشن زمونږ سره پۀ دي مشورو کښي شامل وو، مونږه ناست وو او مونږ له زمونږ ټولو پارټو او د ټول مکتب فکر خلقو مشوري راکړي وي او مونږه د مشوري پۀ رنړا کښي خپل اقدامات کړی دی خو د بدقسمتئ نه د هغه خلقو ټارګټ مونږه یو او دا ځکه چي مونږ ورته پۀ فرنټ کښي ولاړ یو او مونږ مخ پۀ مخ د هغوی هغه مخ هم خلقو ته ښودلے دے چي پۀ کومه معاشره کښي هغوی دلته هغه کارونه کوی چي نن دا درانی صاحب د هغي مذمت کوی، مونږه د

هغي پۀ سل قسمه مذمت کوؤ خو فرق صرف دومره دے چي زۀ به د حکومت د ترجمان پۀ حيثيت خبره کوم او دوئ به د اپوزيشن د ليډر پۀ حيثيت کوی خو پۀ دي پينډال کښي ولاړ يو نو مونږه د دي خاوري بچی يو، نۀ هغۀ اپوزيشن دے او نۀ زۀ حکومت يم، پۀ مونږ باندي يو قسم ته برابر ذمه داری ده چي مونږ پۀ دي خاوره کښي داسي حکمت عملي خپله کړو چي دا وينه بنده شی۔ پۀ ديکښي شک نشته چي دا ټول واقعات راجمع کړئ نو د بنوں د جيل دا واقعه د ټولو نه انوکها ده او د ټولو نه Unique ده۔ بالکل چي پۀ سړک دا خلق راتلل نو ولي پته اونه لګيده چي د کوم ځائے نه راغلل، ځائے ئے معلوم دے، واپس چي کوم ځائے ته تلی دی، هغه ځائے ئے معلوم دے او بيا د جيل انتظاميي ولي Counter action نۀ دے کړے، پوليس پۀ وخت ولي نۀ دی خبر او سيکورټی ايجنسی پۀ وخت ولي نۀ ده خبر؟ د دي د پاره مونږه انکوائری کميټی جوړه کړي ده او هم دغه نکات دی چي دا مونږه وايو چي تر دي وخته پوري څومره واقعات شوی دی، مونږه د يؤي يؤي واقعي، مونږه خپل ځانونه شهيدان کړی دی يا مو هغه دهشتګرد وژلی دی۔ دا يو عجيبه واقعه ده، نۀ ديخوا ډز شوے دے او نۀ اخوا ډز شوے دے او هغوی د خپلي خوښي سړی وړی دی خو بيا د هغي د ټولو نه غټه خبره دا ده چي هغوی بيا ګيټ ته بمونه ايښی دی او ګيټونه ئے الوځولی دی نو دا زما پوليس يا سيکورټی ايجنسئ هم نۀ شی وئيلے چي پۀ پته راغلی وو او پۀ پته لاړل خو چي د دهماکو آواز راغلو نو چا خو به وئيلی وو چي د کوم ځائے نه راغلل او څنګه اوشو؟ يقيناً چي دا واقعه تشه د دهشتګردئ واقعه نۀ ده، دا د سازش پۀ بنياد باندي د دهشتګردئ واقعه ده او پۀ ديکښي سازش شامل دے خو د سازش د بے نقابه کولو د پاره مونږه کميټی جوړه کړي ده، هغه کميټی چي مونږ ته تحقيقاتی رپورټ راکړی او هغه تقريباً 'کمپليټ' شوے دے، پۀ ورځ دوه کښي به هغه 'کمپليټ' شی او مونږ به پۀ هغي باندي خصوصی ميټنګ کوؤ او هغه ټول تحقيقات چي اوشی نو هغه به د کيبينټ سره شيئر کيږی او بيا به ئے هم دغه رنګ مونږ دلته د اسمبلئ د ممبرانو او بيا د ټولو عوامو سره چي څه حقيقت دے، هغه به د خلقو مخي ته ايږدو او چي هر يو کس پکښي مجرم دے، چي هر څوک مجرم دے، که کس دے او که اداره ده، چي څوک هم پۀ دي سازش کښي ملوث وی،

دا زمونږ قامی ذمه داری ده، دا زمونږه حکومتی ذمه داری هم ده، دا زمونږه سیاسی ذمه داری هم ده او دا زمونږه سماجی ذمه داری هم ده چي مونږه هغوی له سخت نه سخت سزا ورکړو ځکه چي څلور کاله د دهشتګردئ خلاف دي صوبي چي کومه قربانی ورکړي ده نو د دي یؤي واقعي پۀ نتیجه کښي به زمونږ د څلور کالو قربانی رائیګاں ځی، هغه به ضائع کیږی، ولي به ضائع کیږی؟ داسي نۀ ده، زۀ بار بار وایم چي داسي نۀ چي یواځي د حکومت پۀ خلقو باندي خودکش دهماکي شوی دی، پۀ اپوزیشن باندي پۀ سر کښي شوی دی۔ پۀ مولانا فضل الرحمان صاحب باندي شوی دی، پۀ شیرپاؤ صاحب باندي شوی دی، پۀ عمران خان باندي شوی دی، غرض دا چي پۀ ډیرو خلقو باندي شوی دی۔ زۀ د حکومت د اړخ نومونه نۀ اخلم۔ دا دهشتګرد بحیثیت قام زمونږه دشمنان دی نو قامی ذمه داری زمونږ دا ده چي مونږ پۀ ربښتیا خبره وکړو چي د دي واقعي شا ته څوک دی او چي هر څوک وی او هر څوک معتبر وی، پکار ده چي مونږه ئے پۀ ګوته کړو او دا د حکومت ذمه داری ده، ټهیک به ئے پۀ ګوته کوؤ۔ دا یوه خبره چي مونږه هغلته کوم اقدامات کړی دی، مونږه خلق Suspend کړی دی، د دي پۀ بنیاد مو کړی دی چي څوک پۀ هغي اثر انداز نۀ شی، ضروری نۀ ده چي مونږ څوک Suspend کړی دی نو هم هغه به ئے ذمه دار وی خو دوئ پۀ ذمه دار پوسټونو ناست وو، ممکن ده چي دوئ ذمه دار وی نو مونږه اخوا کړی دی چي دوئ پۀ تحقیقاتی کمیټئ باندي اثر انداز نۀ شی۔ دا یوه خبره چي درانی صاحب وکړه، د اپوزیشن د لیډر پۀ حیثیت ډیر ذمه دار او د اسمبلئ پۀ فلور چي د ډی سی او صاحب پۀ حواله خلق دا خبره کوی او هغه اراداتاً د دغه ځائے نه چي کوم دے نو پۀ دغه ورځ باندي غائب وو نو مونږ خو ځکه هغه Suspend کړے نۀ دے چي دے وو نه۔ دا یو حکومتی ذمه داری وی چي یو کس نۀ وی خو دا ډیر ذمه دار Statement دے او ډیر اهم Statement دے چي د اسمبلئ پۀ فلور دا اپوزیشن لیډر ورکوی۔ مونږه د دوئ د Statement بالکل نوټس هم اخلو او مونږ پۀ دي خبره باندي، د ډی سی او پۀ حواله دا خبره چي هغه اراداتاً پۀ دغه ورځ غائب وو نو د دي دا مطلب نۀ دے چي هغه به معاف کیږی او د دي دا مطلب نۀ دے چي کوم سړے Suspend نۀ دے نو تحقیقاتی کمیټی به د هغۀ نه تپوس نۀ کوی

خو چي کوم سړے Suspend نهٔ دے ، د هغهٔ رپورټ به هم را کوی او چي کوم Suspend دی، د هغوی رپورټ به هم را کوی او ورسره به د ایجنسو، د پولیس او د سیکورټی ایجنسو د ټولو رپورټ به را کوی او مونږه کمیټی پهٔ ډیر ښهٔ انداز باندي ټاکلي ده، هغوی به مونږ ته که خدائے کړے خیر وی، زر تر زره به رپورټ را کړی۔ زهٔ به بس دومره خواست کوم چي دا د پوائنټ سکورنګ خبره نهٔ ده او نهٔ مونږه دا خبره کوؤ چي ګنی اپوزیشن له جواب ورکوؤ او نهٔ دا خبره کوؤ چي اپوزیشن دا خبره وکړه نو ګنی مونږ ته ئے واوروله۔ دا د دي ځائے زمونږه ذمه داری جوړیږی خو مونږ دا ذمه داری مخکښي هم سر ته رسولي ده، مونږ پهٔ کیبینټ کښي ډسکس کړي ده، ما د ترجمان پهٔ حیثیت باندي پهٔ دي بریفنګ کړے دے او هم پهٔ دغه زاویو مونږه سوچ کړے دے چي پهٔ کومو زاویو باندي نن درانی صاحب خبري وکړي۔ دا د نظر نه پناه خبره نهٔ ده او زهٔ سپیکر صاحب، دي اسمبلئ ته او دي ټول پاکستان ته پهٔ دي بنیاد او ټولي دنیا ته دا خبره ضرور کوم چي د دي یؤي واقعي پهٔ بنیاد څوک دا اونه وائی چي حکومت کمزورے دے او څوک دا اونه وائی چي مونږه خپله ذمه داری سر ته رسولي نهٔ شو۔ حکومتونه چي وی نو ډیر غټ غټ واقعات پکښي کیږی۔ د امریکے Twin tower والوتو او پینټاګان والا دعویدار دی چي مرغئ چرته پر اووهی نو ما ته پته لګی او مرغئ هغلته پر نهٔ بلکه جهاز پري وراغلو او پته ئے اونه لګیده خو بیا هم مونږه دومره جرات کوؤ چي که دلته پته نهٔ ده لګیدلي نو مونږ وایو چي دا پته چي نهٔ ده لګیدلي، پهٔ دیکښي څوک ملوث دی؟ د دي شا ته سازش دے او دا سازش به بے نقابه کوؤ خو دا حکومت ولاړ دے دي قربانو ته او مونږ چي کوم، نصیر صاحب دا خبره وکړه چي زمونږ پهٔ کورونو باندي راځی نو اول خو چي کوم دے د دي یو طریقه کار دے ، داسي څوک د چا پهٔ کور ورتلے نهٔ شی، که د چا پهٔ کور ورغلی وی، هغه زمونږه خویندي میاندي دی، هغه زمونږه ورونړه دی، هغه زمونږه بچی دی۔ دلته دا خبره نشته، زمونږ دا سوسائټی داسي ده چي مونږ د یو بل نه جدا نهٔ یو۔ زمونږ د ټولو عزت او بے عزتی شریکه ده او چي که چرته داسي اقدام شوے وی نو یو خو دا خبره ډیره ناجائزه شوي ده، یقیناً چي کوم خلق د جیل نه تښتیدلی دی، هغوی به مونږ برآمد کوؤ او هغه خلق چي هغوی ته مطلوب وو نو

هغوی خو وائی چي هغه مونږه ځائے ته رسولی دی، هغه ځائے به هم معلوموؤ چي دا ځائے کوم ځائے دے، آیا دا د پاکستان نه بهر دے او که د پاکستان دننه دے؟ که د پاکستان دننه وی، بیا دوئ چرته رسولی دی، بیا خو زما نه پۀ یو ځائے کښي به هم نۀ شی خلاصیدے، لهذا دا یواځي د صوبائی حکومت نۀ بلکه د ټرائبل بیلټ د مرکزی حکومت هم ذمه داری ده او دا د دي هاؤس پۀ وساطت مونږه مرکزی حکومت ته مخکښي هم وئیلي دی چي زمونږ د دي بارډر د پاره ایف سی بهرتی شوي ده او د دي مقصد د پاره بهرتی شوي ده چي هغه د ټرائبل او د Settled belt حفاظت وکړی او د هغي اکثریت چي کوم دے، ستر فیصد هغه نفری نن زمونږ پۀ دي بارډر باندي نشته، لهذا مونږه خواست کړے دے او هغه د فوج سره دی، هغه زمونږ د نور پولیس سره دی، هغه پۀ کشمیر کښي دی، هغه پۀ اسلام آباد کښي دی، هغه پۀ سندھ کښي دی، پۀ کراچئ کښي دی او مونږ وایو چي هغه هم زمونږ پاکستان دے، هلته هم مسئلے شته، هلته هم ضرورت شته خو که دا Border seal شی نو پۀ دي مسئلو کښي به ډیر کمي راشی، لهذا مونږه هغوی ته وایو چي ستاسو سره هر څومره نفری چي ده، نیم پۀ نیمه نفری مونږ ته راواپس کړئ او زر تر زره مونږ ته پلاټون راکړئ چي مونږه د دي ځائے حفاظت وکړو او پۀ دي بنیاد یؤ واقعه د پولیس خلاف استعمالیدے نۀ شی۔ زما د دي خیبر پختونخوا پولیس چي کومي قربانئ ورکړی دی، زۀ درته سپیکر صاحب، پۀ ایماندارئ وایم چي د دنیا پولیس د خیبر پختونخوا د پولیس قربانو ته نۀ رسی چي پۀ کومه ایماندارئ باندي هغوی قربانئ ورکوی او که تاسو (تالیاں) اوګورئ نو چي د دهشتګردئ خلاف څومره خلق شهیدان کیږی نو Ratio دا ده چي د پولیس د ټولو نه زیات شهیدان کیږی۔ زمونږ نوري ایجنسئ هم شته خو نیغ پۀ نیغه چي فرنټ ته ولاړ دی نو هغه پولیس ولاړ دی، لهذا که غفلت دے نو د یو فرد او د یو څو کسانو به وی۔ مونږ پۀ دے موقع باندي د حکومت هغه انتظامیه چي پۀ هغي کښي به د یو کس دوه غلطی وی، هغه به پوائنټ آؤټ کوؤ، سزا به ورکوؤ او زۀ بس پۀ دي خبره ختموم چي د خیبر پختونخوا حکومت شکر الحمدلله بیدار دے، مونږ پخپله ذمه دارئ باندي پوهیږو۔ دا یو انوکها واقعه ده، مونږه ئے تسلیموؤ، پۀ دیکښي غفلت شامل دے، دا تسلیموؤ، پۀ دیکښي

Intelligence failure شته، دا تسليموؤ، پهٔ ديکښي پوليس پهٔ وخت باندي اقدامات نهٔ دی کړی، دا تسليموؤ، دا چي پهٔ لاره راتلل او چا ليدلی نهٔ دی، دا تسليموؤ، د جيل د ننه چي کوم حکام وو، هغوی Counter action نهٔ دے کړے، دا تسليموؤ او دا ځکه تسليموؤ چي دا جرات پهٔ مونږ کښي شته چي کومه غلطی ده، هغه تسليموؤ او د دي علاج به هم مونږه کوؤ۔ تر اوسه پوري چي څومره غلطئ مو سمي کړی دی، دا به هم سموؤ خو زهٔ به اپوزيشن ته دا خواست ضرور کوم چي دا زمونږه او د دوئ شريکه مسئله ده، پهٔ ديکښي به زمونږ سره ملګرتيا کوی او زمونږ سره به کلک ودريږی۔ (تالیاں) مفتی صاحب يوه خبره وکړه، زما د کلی سره ئے وتړله، لکه چي دوئ ته چا وئيلي وی، (قہقہہ) هسے هم پهٔ ما پسي ټول شوی دی او دے وائی ستا پهٔ کلی کښي ئے نيولے وو، چرته چي د انسان وينه توئيږی، زهٔ د هغي مذمت کوم۔ (تالیاں) پهٔ دي باندي مونږه پخوا هم وئيلي او اوس هم وايو چي مونږه چرته هم د انسان د وينی پهٔ توئيدو باندي خوشحاله نهٔ يو خو دا خبره لازم ده چي نن مونږه پهٔ خلقو خفه کيږو نو مونږ وايو چي دا خلق داسي نهٔ دی چي دا پردی دی، دا زمونږه دی او چي پهٔ دي خيبر پختونخوا خاوره کښي که هر څوک دے، که هغه عالم دين دے، که هغه دلته زما سټوډنټ دے، که هغه Politician دے، که هغه عام سړے دے او چي چا ته نقصان رسی، د هغي ذمه داری هم زمونږ ده او يقيناً چي مونږ به د دي هم تحقيقات کوؤ او چي پهٔ ديکښي څوک هم ملوث وی، مونږ به هغوی ته سزا ورکوؤ۔ ډيره مهربانی، ډيره شکريه۔

Mr. Speaker: Thank you, Mian Sahib. The sitting is adjourned till 04: 00 pm of Monday afternoon, 07-05-2012. Thank you.

---

(اسمبلی کا اجلاس بروز سوموار مورخہ 07 مئی 2012ء بعداز دوپہر چار بجے تک کیلئے ملتوی ہوگیا)